**بسم الله الرحمن الرحيم**

**پوښتنې ته ځواب**

**د لیبیا په سوېل کې د حفتر د پوځي لښکر کشۍ اړخونه**

**(ژباړه)**



**پوښتنه:**

ولې د امریکا مزدور حفتر خپل ځواکونه د لیبیا پراخې سوېلې برخې ته لېږي او ولې د خپلو هڅو تمرکز د اروپا پلوې لوېدیځې لیبیا پر لور نه را غونډوي، ترڅو د خپلو ګټو لپاره ټوله لیبیا په خپله ولکه کې راولي؟ د دوی ټول نفوذ او باور خو پر شمال، لوېدیځ او ختیځ دی، نه پر سوېل او ایا په سوېل کې د ده پوځي کمپاین نورې موخې لري؟

**ځواب:**

موږ لاندې ټکو ته بیا کتنه کوو تر څو ځواب روښانه شي:

لومړی: کله چې د امریکا مزدور حفتر بنغازي په خپله ولکه کې راووست، نو دی د لیبیا په ختیځ کې واکمن شو او د خپلې ګټې لپاره یې د ۲۰۱۸ په نیمایي کې د دیرنه په ښار کې شخړې له منځه یووړې، له دې لارې یې په ختیځه لیبیا کې په بشپړه توګه خپل واک ټینګ کړ. په لیبیا کې د تېلو د استخراج سیمو ته د جنګ د غځولو له لارې حفتر د امریکایي مزدورانو په استازیتوب او په طرابلس کې السراج د اروپایي مزدورانو په استازیتوب د شخړې اور نور هم تازه کړ. د تېلو پر زېرمو د خپل واک په غځولو سره د ده نظامي ځواک اوس د السراج تر حکومت غښتلی شوی.

خو نظامي ځواک يې چې د امريکايي مزدور سيسي له ملاتړه برخمن دی په پوره توګه د دې لپاره بسنه نه کوي ترڅو د ليبيا ټول ختيځ په خپله ولکه کې راولي. دا په داسې حال کې ده چې اروپايي هيوادونه هم پخپله دی له دې کاره را ګرځوي او دغه راز په سيمه کې اروپا پلوه الجزاير هم د دې اجازه نه ورکوي. د الجزاير دغه وېره او د دوی لاسوهنه د حفتر په څرګندونو کې له ورايه ښکاري. دوشنبه د ليبيا د بهرنيو چارو وزير طاهر سيلا د جنرال خليفه حفتر هغه« نامسولانه څرګندونې» وغندلې چې په دوهم ګام کې يې الجزاير ته، د ليبيا د جګړې غځولو ګواښ کړی و. حفتر مخکې اعلان کړی و چې الجزاير په ليبيا کې له امنيتي حالت څخه ناوړه ګټه اخلي او د الجزاير سرتېري د ليبيا تر پولو ور اوښتي دي. (France 24, 2018/9/10).

دويم: دا واقعيت له حفتر څخه د مصر د سيسي او د ده تر شا د امريکا د ملاتړ له امله دی، چې له ده سره يې مرسته کړې ترڅو د ليبيا ختيځ او د تيلو د استخراج سيمې تر خپل کنټرول لاندې راولي. همدې ته ورته واقعيت د السراج د حکومت دی او د الجزاير له چمتوالي څخه هم څرګندېږي چې د جغرافيايي نږدې والي له امله او اروپايانو له کبله، چې تر شا يې ملاتړي دي. دې واقعيت او د دې د مقابل اړخ واقعيت د تعادل يو ډول منځنی خط را منځته کړی دی. په هر حال د نظامي ځواک له اړخه برلاسي اوس هم د حفتر پر لور ده ځکه له ده سره د امريکا ستر ملاتړ دی چې د ليبيا د حل لارې لپاره د ده له ليد لوري سره هم اړخ لګوي؛ وروسته له دې چې حفتر قاطع او نيمه حالت غوره کړ، نو د خبرو اترو د پيلولو وړانديز وشو. خو د سياسي مرکزيت له زوايې څخه لا هم د ترازو پله د السراج په ګټه کږه ده. اروپايي نفوذ د ده لپاره د دې تضمين کوي ترڅو پايتخت طرابلس، چې د اروپا د سياسي ځواک مرکز دی په خپل کنټرول کې وساتي. ځکه خو حفتر نه شي کولی پرمختګ وکړي او پلازمېنه ونيسي او نه هم کولی شي چې د السراج له حکومت سره جدي خبرې اترې پيل کړي، ترڅو دواړه لوري د مساوي ډلو په توګه را څرګند شي.

په ليبيا کې د شخړې دواړو لوريو ته دغو دوو ناوړو حالتونو په ټپه ولاړ حالت، را منځته کړی دی، چې هيڅ يو لوری يې د حل کولو وړتيا نه لري. ځکه خو د ليبيا سوبل ته تګ د حفتر لپاره د خلاصون يوه لاره وه او په دې سره به دی وکولی شي خپل نظامي واک نور هم زيات کړي او بيا به ستونزه د امريکا په ملاتړ د اروپا په پرتله په ځواکمن دريځ کې حل شي. دا هغه څه و چې پيښ شول. چهار شنبه د جنرال خليفه حفتر ځواکونو د هيواد په سوبل کې پراخ نظامي عمليات پيل کړل ترڅو دغه سيمې له وسله والو ډلو څخه پاکې کړي، د ليبيا د ملي پوځ د وياند له قوله په دې ډلو کې سخت دريځې ډلې لکه داعش او جنايي ډلې شاملې دي (France 24, 2019/1/17). د تروريزم او جنايي ډلو په نامه امريکا خپل مزدور د ليبيا سوبل ته ور ټېل وهي چې زياتې داخلي او سيمه يزې موخې تر لاسه کړي او خپل نفوذ لا قوي کړي ترڅو د اروپايي هيوادونو نفوذ را کم کړي.

دربيم، تر کره کتنې وروسته دا په ډاګه کېږي چې د ليبيا سوبل ته د حفتر د کمپاين په ترڅ کې او د ليبيا په داخلي شخړه کې د امريکا د نفوذ په پايله کې دوې موخې تر لاسه شوي او امريکا په افريقا کې د اروپا د نفوذ پر وړاندې دوه نورې موخې هم تر لاسه کړې چې تفصيل يې په دې ډول دی:

۱- هغه موخې چې په ليبيا کې يې دننه له شخړې څخه تر لاسه کړې په لاندې ډول دي:

الف ـ د پراخې سيمې کنټرول: که حفتر په دې وتوانېږي چې په سوبلې ليبيا کې خپل نظامي کنټرول نور هم پراخ کړي، نو دا به په خبرو اترو کې نور هم دی برلاسی کړي. پر دې سربېره د کورني نظامي باور له پلوه د سوبلې ښارونو لکه سبا او نورو سوبلې ښارګوټو کنټرول به نور هم د ده «مشروعيت» د يو داسې اړخ په توګه چې د ليبيا د قلمرو زياتې برخې يې په لاس کې دي، زيات کړي او همدا راز پر سياسي حل

لارو به د ده اغېز هم زيات کړي، که څه هم سوېل لوري کې د الجزاير پولې ته نږدې والی، حفتر ته يو ګواښ دی، خو دی ښايي دا سيمې هغه مهال ونيسي چې الجزاير د ولسمشرۍ د ټاکنو په کشمکش کې ډوب وي.

ب- د ليبيا د اقتصاد کنترول: تر مخ ته تګ او شا تګ وروسته د حفتر ځواکونو د ۲۰۱۸ په نيمايي کې د تيلو پر زېرمو خپلې منګولې ښخې کړې او د دې تيلو ګټې يې د طرابلس پر ځای په بنغازي کې د تيلو ملي سازمان څانګې ته ولېږدولې، په دې ډول يې يو لوري ته د سراج حکومت د تيلو د زېرمو له نفتو څخه محروم کړ او بل لوري ته حفتر د دې لپاره تياری ونيو چې همدا تيل د خپلې ګټې په موخه صادر کړي او وروسته جګړه هغو برخو ته وغځېده چې تيل په کې وو ترڅو حفتر د تيلو له صادرولو څخه را وګرځوي. د الجدران ملېشو د سدار او راس لنوف بندرونه ونيول او په طرابلس کې د سراج حکومت الجدران د يو مشروع ځواک په توګه ومانه ترڅو د تيلو د ځای پر ځای کولو ساتنه وکړي. خو دا د سراج حکومت ته د منلو وړ نه وه. «د ليبيا له وسلوالو ځواکونو سره سختې نښتې را منځته شوې او وروسته د ليبيا د وسلوالو ځواکونو عمومي قومندانۍ د جون پر ۲۱مه اعلان وکړ چې د راس لنوف او سدار برخې يې ونيولې» (روسي سپوتنيک 7/7/2018).

حفتر د تېلو زېرمې د نفتو د صاردولو له بندرونو سره يو ځای ونيولې. له همدې نېټې څخه د السراج په مشرۍ د ملي يووالي حکومت هڅه کوي چې خپل تمرکز پر دې را غونډ کړي ترڅو نور هيوادونه د ليبيا د هغو تيلو له واردولو را وګرځوي چې د حفتر د ځواکونو تر ولکې لاندې د تيلو له زېرمو څخه لاس ته راځي. د ليبيا د صادراتو په کچه کې د پام وړ کمښت راغلی دی. د سراج حکومت د مرزوک له دښتې څخه را ايستل شوي تيل صادروي. په ځانګړې توګه د الصحرا له ميدانونو څخه؛ په ورځ کې ۳۰۰ زره بېرله او له الفيل څخه ۱۲۵ زره بېرله... د سوېل لوري ته د خال، خال جګړو د وړلو او د حفتر د ځواکونو له لوري د سبا په ښار کې د تيلو پر ميدانونو د ولکې ټينګولو په اړه، د ليبيا په ختيځه برخه کې د ځواکونو وياند دوشنبه په ټويټر کې وويل: «وسلوالو ځواکونو په پوره توګه د الصحرا ميدان له اصلي تسهيلاتو سره په سوليزه توګه پرته له کومو شخړو ونيوه او اوس يې په سيمه کې له ادارې سره په همږغې خوندي کوي» (اليوم السابع 11/2/2019).

دا چاره د حفتر په اقتصادي نفوذ کې زياتوالی راولي. دا ډول د تيلو ميدانونه چې په ورځ کې د ۴۰۰ زرو بيرلو د توليد وړتيا لري او د هسپانوي شرکت په واک کې دي، دا هغه څه دي چې د امريکا د مزدور حفتر او په طرابلس کې د اروپايانو د مزدورانو تر منځ د شخړې اصلي لامل دی. په دې ډول پرمختګونو لکه حفتر کولی شي تر خپل واک لاندې سيمې لکه په ليرې سوېل کې په ځانګړې توګه الفيل ميدان، سيمې سمې کنترول کړي، چې په دې سره به د سراج حکومت خپل اقتصادي شريان له لاسه ورکړي او د اروپا پر نړيوال چتر به تکيه وکړي ترڅو حفتر د تېلو له صادرولو را وګرځوي او اړ يې کړي چې د طرابلس د تيلو د سازمانونو له لارې يې صادر کړي. که څه هم دی سرچينې په واک کې لري او د بندرونو او نل ليکو له لارې يې د صادرولو موضوع پرې ايښې ده کوم چې په خبرو اترو سره نه شي کنتروليدای، په همدې ډول دی خپلو اقتصادي موخو ته رسېږي او دی کولی شي د خپلو نظامي ځواکونو شريانونو ته روپۍ تزريق کړي.

۲- د اروپا پر وړاندې او په افريقا کې د هغې د نفوذ پر ضد د امريکا دوې موخې:

الف: له افریقا څخه د کډوالو تګ د اروپا لپاره سرخوږی جوړ کړی دی... همدغه د امریکا موخه ده چې اروپا په لیبیا کې د پوځي اډو له جوړولو څخه منع کړي په دې پلمه چې له افریقا څخه اروپا ته د کډوالۍ مخه نیسي. د امریکا لاسپوڅی حفتر د لیبیا په ستراتیژیکو ځایونو لګه؛ هوایي ډګرونه او د الوتکو ځغاست لیکو کې پوځي تاسیسات لري چې پر مټ یې اروپایي هیوادونه د هغو له استعمال څخه منع کوي، په لیبیا کې د اروپا د اغېز مخنیوی او همدارنګه په افریقا کې د اروپا د سیمه ییزو موخو د لاسته راوړلو مخنیوی کوي. اروپا له افریقا څخه د کډوالۍ د مخنیوي په پلمه په یادو ستراتیژیکو ځایونو کې د پښې اېښېدو ځای په لټه کې ده، خو دا کار د امریکا او د هغې لاسپوڅي حفتر له لوري رد شو. «متقاعد لیبیایي جنرال خلیفه حفتر نړیوالو غاړو ته د هغو هڅو په تړاو خبرداری ورکړ، چې غواړي د لیبیا په سوېل کې پوځي حضور ولري. ده په داسې یوه حساس وخت کې خبرداری ورکړ، چې عمومي وزارت لیوال دی له ټولو نړیوالو غاړو سره په موازي ډول ښې اړیکې او ستراتیژیک مشارکت وپالي، د معلوماتو له مخې ځینې نړیوالې غاړې غواړي چې د لیبیا په سوېل کې پوځي شتون ولري... پنجشنبه لیبیایي سرچینو خبر ورکړ چې د ایټالیا امنیتي او پوځي استازي د ګاټ له ښاره -د لیبیا سوېل لوېدیځ ته لرې پروت ښار دی- په دې موخه لیدنه وکړه چې یوه ایټالوي پوځي او ملکي سرحدي پوسته به جوړوي چې د یادې پوستې لګښت به اروپا ورکوي او موخه به یې د ناقانونه کډوالو مخنیوی وي.» (الجزیره نیټ ۲۰۱۸/۶/۲۹).

پر ستراتیژیکو او مهمو ځایونو کې د حفتر د کنترول موخه دا ده چې اروپایي هیوادونه د لیبیا په سوېل کې د پوځي اډو له جوړولو او فکر کولو څخه منع کړي. «د لیبیا د هوایي عملیاتو د عمومي قوماندانۍ ځواکونو اعلان وکړ چې په هوایي ډګرونو او سوېلي سیمو کې د دوی له موافقې پرته د الوتکو الوتنو او کښېنستلو ته اجازه نه ورکوي او خبرداری یې ورکړ چې د دوی له اجازې پرته به په سیمه کې د الوتکې کښېنستلو ته اجازه ورنه کړي.» (الیوم السابع ورځپاڼه، ۲۰۱۹/۲/۸). له همدې امله امریکا حفتر د لیبیا سوېل ته ولېږه چې د اروپایي هیوادونو مخه ونیسي او د افریقایي کډوالو ستونزه همداسې پاتې شي چې دا د اروپا لپاره یو سرخوږی دی.

ب: د حفتر پوځي عملیات په عربي صحرا کې د اروپا د نفوذ پر ضد پیل شوي دي او همدارنګه یاد عملیات د لیبیا په سوېل کې یوازې په یادو شویو موخو پورې محدوده هم نه دي. امریکا پلان لري او عملاً یوه سیمه ییزه موخه پلې کوي، هغه دا چې په عربي صحرا کې د فرانسې اغېز او نفوذ کمزوری کړي. په سوېلي لیبیا کې خلا رامنځته شوې، چې د افریقایي مخالفو ډلو د وسله والو فعالیتونو لپاره یې یو ښه چاپېریال جوړ کړی دی. په لیبیا کې چادي، نایجریایي او سوډاني مخالفو ډلو وده کړې او آن د کورني ځواک په یوه برخه بدلې شوي دي، چې له پامه نه شي غورځېدای.

چهارشنبه چادي ورځپاڼه یونیټي چې په فرانسوي ژبه خپرېږي لیکي: « ۱۱۰۰۰ چادي مخالف عناصر اوسمهال د لیبیا په سوېل کې فعالیتونه کوي.» (باوبت الوسط ورځپاڼه، ۲۰۱۸/۴/۴). امریکا هلته د تروریزم او د خپلو لاسپوڅو پر مټ د هغو حرکتونو له منځه وړلو په پلمه په څرګنده لاسوهنه کوي. «چهارشنبه یوه لیبیایي چارواکي وویل، چې امریکایي او لیبیایي ځواکونو لرې د پراته ښار اوباري پر مرکزي سیمه ګډ برید وکړ چې د القاعده ملاتړ پکې اوسېدل.» (ایرونیوز عربي، ۲۰۱۹/۰۱/۱۴). د امریکا د تروریزم پلمه د حفتر له پلمې سره ورته والی لري دوی وایي: « سیمه له ترهګرۍ او ترهګرو ډلو څخه پاکوو.»

د لیبیا په سوېل کې چادي پوځي حرکتونه شتون لري. «د لیبیا ملي پوځ چې مشري یې مارشال خلیفه حفتر کوي، تېره جنوري د لیبیا په سوېل لوېدیځ کې د تر ټولو لویې وسلوالې ډلې پر ضد چې چادان دي، پوځي عملیات پیل کړل.» (ار تي، ۲۰۱۹/۲/۱۲). د لیبیا ملي پوځ په یو لنډ بیان کې د حفتر له خولې وویل: «زموږ

د ګران هېواد په سوېل کې لیبیایي عرب هوایي ځواکونو د جیټ الوتکو له لارې د چادي غلو پر دریو ډلو او د دوی پر ملاتړو هوایي برید ترسره کړ.» (العربیه نیټ، ۲۰۱۹/۲/۸).

ج: د لیبیا په سوېل کې د حفتر له پوځي عملیاتو څخه په ډاګه ښکاري چې موخه یې له لیبیا څخه د چادي ډلو شړل دي، ترڅو د چاد په لور و درومي او په چاد کې چې د فرانسې د نفوذ سیمه ده ناارامي جوړه کړي، کوم چې همدغه کار سملاسي پرته له ځنډ څخه روان دی. « سې شنبه د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر ژین یوسلي ډراین وویل: «فرانسوي ځواکونو په چاد کې د یاغیانو پر یوه کاروان باندې هوایي برید وکړ او په دې سره یې د چاد پر ولسمشر ادریس دیبي باندې د کېډونکې کودتا پلان شنډ کړ.» د چاد ولسمشر ادریس دیبي د فرانسې په غبرګون کې وویل، چې فرانسوي پوځي الوتکو تېره اونۍ پر هغه کاروان باندې هوایي برید وکړ چې له لیبیا څخه د چاد قلمرو ته ننوتی وو. ژین یوسلي ډراین د پارلمان غړو ته په وینا کې وویل: «یوې یاغي ډلې د لیبیا له سوېل څخه برید وکړ... چې د چاد پلازمینه انجمینا په زور ونیسي، ولسمشر ادریس زموږ څخه په لیکلې بڼه وغوښتل چې د کودتا مخه ونیسو او د ده هیواد وژغورو.» (رویټر، ۲۰۱۹/۲/۱۲).
د امریکا د لاسپوڅي حفتر د خطر له امله چې چاد ته متوجه دی، فرانسې د چاد په پلازمینه انجمینا کې د برګان ترهګرۍ ضد ځواک تر نامه لاندې ۴۵۰۰ ځواکونه ګمارلي دي.» (مخکنۍ سرچینه)

د: پر دې ټولو سره سره داسې ښکاري چې د امریکا لاسوهنه په لیبیا کې او د هغې د لاسپوڅي ناتواني چې په لوېدیځه لیبیا کې یې د امریکا له خوښې سره سم کړکیچن حالت سم نه کړ، لوی لامل یې دا دی چې اروپا د سراج د حکومت ملاتړ کوي. امریکا هڅه وکړه چې په چاد کې د فرانسې اغېز کمزوری کړي او د سوېلي لیبیا له لارې د چاد په سیمه کې د چاد د ولسمشر ادریس مخالفینو ته وده ورکړي او دا به د هغه څه پیلامه وي چې په راتلونکي کې پېښېږي. په چاد کې جګړه او وروسته په نایجر هیواد کې د فرانسې د اغېز کمولو پر ضد جګړه د دې لپاره وه، چې د فرانسې د هغو کمپنیو مخه ونیسې چې د یورانیم عنصر د پلټنې په موخه په یاده سیمه کې په کار بوختې دي.

څلورم: په پای کې ویلی شو چې حفتر د امریکا د پوځي ملاتړ پر مټ چې د مصر له لارې یې ترلاسه کوي، توانېدلی، چې لیبیا په دوو برخو وویشي. دی د لیبیا ختیځه برخه، د تېلو کانونه، د لیبیا اقتصادي هسته او د لیبیا لوېدیځه برخه په لاس کې لري. امریکا ده ته لارښوونه کوي چې سوېل ته خپل پوځي او اقتصادي اغېز پراخ کړي. له همدې امله دی له په ټپه ولاړ حالت سره مخ دی او نه شي کولی چې لوېدیځې لیبیا ته خپل اغېز وغځوي، ځکه چې په ګاونډ کې د الجزایر هیواد پروت دی او د سراج حکومت له وېرې چې د اروپا له لوري یې پراخ ملاتړ کېږي، خپل نفوذ او اغېز ته پراختیا نه شي ورکولی.

امریکا پر حفتر فشار اچوي چې له دې لارې خپلې نورې موخې ترلاسه کړي، لکه پر اروپایي هیوادونو باندې د کډوالی پېټی درنوي ترڅو د ګڼ شمېر کډوالو تګ د اروپا لپاره د سرخوږۍ لامل وګرځي او له بل لوري په ګاونډیو هیوادونو کې د فرانسې د نفوذ د ننګولو لپاره چې له چاد سره پیلېږي.

دا وو د لیبیا په سوېل کې د حفتر د پوځي کمپاین بېلابېل اړخونه. هر چا ته روښانه ده چې کافر هیوادونه په لیبیا کې د خپلو ګټو او نفوذ د پرخوالي لپاره یو له بل سره سیالي کوي. خو اسلامي ډلې پرته د الله سبحانه و تعالی د رضا په پام کې نیولو سره د خپلو ورونو وینې تویوي او د خپل هیواد تیل بې ځایه لګوي. لاسپوڅي او د دوی ملاتړي هیوادونه به تر هغې، چې دوی په غوږ او کلک هوډ راپورته نه شي، له منځه لاړ نه شي او نه به هغه شرارت او فساد له منځه لاړ شي چې دوی په اسلامي خاورو کې خپور کړی دی. همداراز دغه

حالت به ترهغه دوام کوي چې د الله قانون حاکم نه کړي او خلافت تاسیس نه کړي؛ چې د خلافت په تاسیس سره به هرڅه په خپل ځای کې پاتې شي او په اسلامي خاورو کې به د کفارو هیلې په اوبو لاهو شي.

**﴿إِنَّ فِي هَذَا لَبَلَاغاً لِقَوْمٍ عَابِدِينَ﴾**

**[الانبیا:۱۰۶]**

*ژباړه: په حقیقت کې دغه قران عابدانو لپاره خبرتیا ده.*

**۱۴۴۰ هـ.ق د جمادي الاثاني ۱۵ مه**

**۲۰۱۹ م د فبروري ۲ مه**